# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



ژباړه: احمد شاه وردک


۲۰ می ۲۰۱۲

## امریکایي ورځپاڼلیکونکی:

# مونږ امریکایان په ریښتیا څوک یو؟

یوه امریکایي ورځپاڼلیکونی او سیاسی فعال دامریکی چارواکی، پوځیان اوآن دسوداګری اواقتصاد خاوندان تر پوښتنی لاندی نیولی اوپه نړیواله سطحه یی له دوی پوښتلی: په ریښتیا سره مونږ څوک یو اوله نورو څه غواړو؟!

د (په ریښتیا سره مونږ څوک یو؟) تر سرلیک لاندی د((دان دیوالت)) دمقالی بشپړ متن چی دکانتر پانچ ویب پاڼی خپورکړی داسی دی:

«...په مکسیکو کی زمونږ وال مارت شرکت داسی د بډو اخیستنی رسوایی جوړه کړه اومسؤولانو یی وویل چی مونږ داډول نه یو؟»

په ابوغریب کی موبندیان شکنجه کړل اوځورونی مو وکړی، ولی دجیل سوبه دار وویل چی (( ځورونه زمونږ موخه نه وه)).

دافغانستان په یوه کلی کی مو تر ۱۶ ښځی اوماشومان ووژل ولی دبهرنیو چارو وزیری هیلری کلینتن  وویل: مونږ داډول نه یو؟

په همدی اسلامی هیواد کی مو قرآنونه وسوزول ولی په افغانستان کی زمونږ دځواکونو بولندی جان آلن  وویل: ((مونږ داډول نه یو؟)).

بیا هم په همدی هیواد کی مو د جګیالیو دتوته شویومړیو سره عکسونه ونیول ولی ددفاع وزیر لیون پانتا اودبهرنیو چاری وزیری هیلری کلینتن دواړو وویل: (( مونږ داډول نه یو)).

دنیو یارک پولیسو دنیو جرسی دنیوآرک په ښارګوتکی کی مسلمانان ترڅارنی لاندی ونیول اودهغوی څخه یی جاسوسی وکړه ولی په نیوآرک ښارکی زمونږ ښاروال وویل:(( یه، مونږ داډول نه یو)).

په پوهنتون کی مو په سوله غوښتونکو نیوکګرو(معتریضونو) دفلفل دسپری څخه کارواخیست ترڅو تیت پرک شی، ولی ددی کړنی په توجیې کولو مو وویل چی دفلفل دسپری کارول زمونږ دارزښتونو سره سمون نخوری اوپه ریښتیا سره مونږ داسی نه یو؟

دهغو مهاجرو والدينو څخه موچې دهستوګنی لاسوندونه نلری دهغوی بچيان چې په امريکه کی نړی ته راغلی و، بيل کړل اوجمهور رييس بارک اوباما وويل :(( مونږ داړول نه يو؟))

که مونږ داړول نه يو، نو په ريښتيا څه ړول يو؟! دويتنام له جګړی څخه راپه ديخوا چيرته چی مو په (( مای لای)) کی تر ۴۰۰ ډيری زړی ميرمنی اوماشومان چې ټول ملکيان و ، ووژل بيا په دی وران شوی هيواد کی زمونږ دپوځونو بولندوی جنرال ويليام وستمور وويل : مونږ داړول نه يو؟

زمونږ فرهنګ اوهغو کړنو ته په کتو چی زمونږ نارينه اوښځينه دهغی تراغيزی لاندی جنګيږی، زمونږ په اداروکی کار کوی اوزمونږ داقتصاد څرخونه دډيری ګټی اوسود لپاره څرخوی، په سادګی دی ټکی ته رسيږو چی هغه بی شرمانه کړنی او بدی ورانکاری چی يادون يی وشو، څومره عادی اوساده ترسره کوو.

دبيلګی په توګه زمونږ پوځ چی د ژوند پايښت يی په جګړو کی نغښتی دی، داسی سر تيټی او وژونکی سرتيری غواړی چی لومړی هغوی په دی هيله چی وژل يو بد کاردی، راکښوی، بيا وروسته د برنامی له مخی هغوی له انسانيت څخه تش نس کوی اودوی په هغه ماشين اړوی چی په ټيټو سرونو ديوه امپرياليستی حکومت غوښتنی پوره کړی.

همداغه له انسانيت نه تش نس کيدل، اود وژلو په يوه ماشين اوښتل دی چی زمونږ سرتيری په افغانستان کی ديوی ځانګړی موخی څخه پرته په يوه اوږده جګړه کی، دی ته هڅوی ترڅو په بی دفاع خلکو بريدونه وکړی اوهغوی په عامه ووژنی.

هوکی! همداکړنلاره د فدرال پوليسو اودقانون دپلی کوونکو لخواهم په کاريږی. نن دامريکی پوليس خپله دنده نګنی چی د عاموخلکو چوپړ وکړی اوددوی ساتنه وکړی. دامريکی پوليسو نن زده کړی چی دحاکم نظام څخه ساتنه وکړی او دشتنمو له شتو څخه د خوارانو په وړاندی ساتنه وکړی. يعنی دبډايانو ددولت په چوپړ کی دی. په دی توګه عام وګړی دامريکی دپوليسو لپاره ددښمن په بڼه دی اوبايد په زور تسليميدو ته اړايستل شی. آن تردی چی هغه خلک چی دخپلو ښکاره حقونو څخه ساتنه کوی هم ددوی لپاره ګواښ بلل کيږی.

مونږ امريکايان داسی انګيرو چی دولسواکی (دموکراسی) مخکښان يو اودخپل سرنوښت بيړی پخپله چلوو، ولی ډيره موده نشو کولای د پانګوالی دامپراتوری دظلمونو اوغلطيو څخه ، خلاص شو.

ددی وار رارسيدلی چی پوه شو چی مونږ امريکايان دهغه ظلمونو اوورانکاريو مسؤولين يو، کومی چی زمونږ دچارواکو، پوځيانو او دپانګی داربابانو لخوا ترسره کيږی. نورباید دغه ځان ښوونه(تظاهر) پريږدو چی مونږ ګرم نه يو؟ دامريکی په دننه اوبهر کی پوځيتوب(نظاميګری) پريږدو اودخپلو ګټو څخه دولس دګټو پروړاندی تير شو. ولی داکار دپوځيتوب او سود غوښتونکو په ملاتړو نه ترسره کيږی ، يوازی مونږ خلک يو چی داکار کولای شو. که چيری له دی پرته کړنی ترسره کړو نو دا به زمونږ تيری کړنی وی چی و به ښيی : په ريښتيا مونږ څوک يو؟

(پای)